# د پښتو شاعرۍ ائینې

رحمت شاه سائل

زمونږ پښتو شاعرۍ زرګونه کاله مونږ د ګوتې نیولي د خپل وطن په ورانو استانو او سرحدونو ګرځولي یو او زمونږ د قام او اولس د زرګونو کالو د ژوند ژواک، تاریخ، تهذیب او تمدن تصویرونه یې زمونږ د زړونو په دېوالونو لګولي دي .زمونږ شاعري زمونږ د مخونو لیدو ائینې وې، څۀ مو چوري چوري ماتې کړې، اوس پکښې خپلې سترګې ماتې ماتې وینو او څۀ مو پړمخې نسکورې کړې، اوس چې یې راپورته کړو، پکښې ړاندۀ ړاندۀ ښکارو، غوارم چې دغه ماتې ماتې ائینې راټولې کړو او ړندې ائینې صفا کړو او دغه اواز واورو چې:

یو خلې بیا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پرېواتۀ ګردونه

راځئ چې د خپلو تخلیق کارانو د تخلیقي ګلابو نه دوړې څنډ وهو، د شبنم په قطرو او د خپل اسمان د نمر په پلوشو یې وو‌ینځو.

چې کـله په دې عشق کښې او د دې په هجر کښې هم خبره کوي. نو د خلقو د زیاتې پوهې دپاره ئې په هغو مثالونو کښې کوي. چې هغه د خلقو د مشاهدې نه لرې هرګز نه وي. لکه :

د هجران سیلۍ راوالوته عظیمه
د چندڼ شبرینې څانګې ئې کړې ماتې

یا دا چې :

معرفت څنې پیدا شه
عشق د عقل پلار او مور دے

یا ددې نه هم که ورمخکښې شو، چې هغه د یقین او



## مرزا خان انصاري د فکر و نظر خاوند شاعر (دریم او آخري قسط)

د خزان د لمبو تاؤ تر عالم اوخت
دریغه دریغه د بهار سرۀ شبنمه

لور په لوري اند ښښنې په زړۀ څرخېږي
څوک خبر نه دي د فکر د مرهمه

مرزاخان انصاري

ګمان د پوهې دپاره څنګه رهنمایانه مثالونه راوړي.

زنګ ئې لرې که له دله
فهم نور محبت اور دے

ایرې سکور له یوه اصله
یقین سپین شه ګمان تور دے

په وړمبۍ مصرعه کښې زړه هم څائېده، خو داسې ښکاري چې په دې ټولو د پارسۍ د شاعرۍ ډېر اثرات وو. فهم د نور په حېثیت او محبت د اور په حېثیت ، د زړه نه زنګ لرے کوي. او د یقین او ګمان د بېلتون دپاره څومره ښه مثال پیدا کوي، چې اصل خو د دواړو یو وؤ. یعني اور په یو قسم لرګو بل شو. خو چې څان ئې ایره کړو. نو شکل ئې سپین

راوختـو. دا د یـقیـن خبـره ده او گـمان د اور نه ، یا د دغسې اور نه ځان بچ را بچ کړو. نو سوزېدلے خو دے هم ؤ. خو تک تور پاتې شو.

یوازې دا نه ددغه دور اصتلاحات داسې دي، چې د دوي د دې مـضـمـون په رنګ د تېرو دورونو د اجتـمـاعـي او انـفرادي ریاضتونو نه پېدا شوؤ ځنې هـغـو نـندارو د حقیقتونو نه ، چې په خلقو کښې ئې شهرت او مقبولیت موندے دے او په خبرو ، شعرونو او متـلـونـو کښې ئې ځـائـے مـونـدے دے. د هغې اصتـلاحـاتـو نه ځنې د ژبو د ابلاغ ضرورت هم پوره کړې شـوے دے. او خـلـقـو ته د رسائی دپاره ئې په شـعر و ادب کښې هم ځائے نیولے دے. لکه مرزا خان انصاري چې وائي :

ډېـر مـنت لـــرم له هسې بنـــه خوګنه
چې مې بیـا مـونـده د طـریـقت جوګنـه

د طریقت جوګنه موندل. مونږ ته د جوګ او جادو، په خـلـقـو کښې د اثـراتـو او سـرائیت حقیقت په ګوته کـوي. پـه مـجـازي مـعنو کښې خو جوګ یا جادو د حُسـن لـه خـوا، سـتـرګـو او ادا د اثـراتو په حواله ډېر څیزونه په ګوتو راځي. خو د حقیقت په موندو کښې ددغسې اصتـلاحـاتـو ځایول مونږ ته دا ښائي چې، د دغـه دورونـو د ریاضتونو، شکلونه او نومونه ئې هم بدل کړي دي. د مقاصدو د لحاظه پکښې فرق نشته. کـه دې نـو تـصور او تصویر بل شان دے. د ریاضت انـداز بـل شان هم کېدے شي. خو د یو نه بل مقام ته رسېـدل پـه دواړو لارو کښې یـو قسم جذبه، مینه او سترتیا موجوده ده. تر دې چې خپل ځان خاورې کول دي نو هله ځان شته کول دي.

تېره لـــور د لا اله ئـــې په لاس راکه
چې پـه دا تـه غیـر الله د زړه نه سکنه

سـکښل ، په قینچۍ ممکن وي. خو د رېبلو په معنیٰ د لـور استـعمال نه دا پته لږي، چې لور زمونږ د ډېرو ضرورتونو دپاره کار کړے دے. دغسې :

څـو لـه خـاره لـه خـاشاکه خالي نه شي
پـــه پټـي ګـلـونـــه نــه کـري مـالـــــنـه

یـعـني دا که د کر کروندې د هر قسمه بوټي کرل دي. هـغې تـه پټې جوړول یا ځائے جوړول ضروري وي. د مالنې مطلب مالیاره ده.

دغسې د بـادشـاهۍ اصتـلاح بې شـکـه تر اوسه اوسه موجوده ده او د ملنګۍ یا فقیرۍ اصتلاح هـم، خـو د بـادشاهت د تصور سره چې د لافانیت کوم تـصور ملګرے شوے وؤ .هـغې ته په اصل کښې د خـدائـے پـاک د بادشاهت تصور وسعت ورکړے دے. چې دے د هغه نائب ؤ .پـه اصل کښې دا انسانانو ته معلومه نه وه او په صوفي ازم کښې دا تصور ډېر عام شو.

بـادشـــاهـي د فـقیـرانو په دُعـا شـــي
زه رحـمان هله بادشاه شوم چې ګدا شوم

ګهي ګهي د زړه ملک کښې بادشاهي کړم
ګهـي غـم راتـه لبنـکـر شـــي او درینه

نـوي وختـونـه ، نوې زمانې او نوي نظامونه به شائد چې د زمـکې نـه د بـادشـاهت نوم تت کړي .البته د خـدائـے پـاک بادشاهت به جاري او ساري وي .هم دا تـصـور کـه مونږ د مرزا خان انصاري په څو شعرونو کښې ولټـوو نـو بـائـد چې د هـغـه د مقطې شعر اول راواخلو، او وګورو چې دا څوک وائي.

زمـــا ذات پـــه دواړه کونـه نـه ځـائیږي
پـه قـفـس کښې وئـیـدلے د مـــــرزا یم

واه ، واه .ما چې په دې موضوعاتو څومره باریک باریک شعرونه لوستي دي .دومره د راز و نیاز نه ډک شعر مې چرې نه دے تر نظره شوے .د پښتو متل دے چې " ناز په هغه چا چې دې وړي"
دا د ناز کولو يو حد هم دے او هغه خود داري او د خوداری قوت هم .د اقبال په قول :

خودي کو کر بلند اتنا که هر تقدير سے پهلے
خدا بندے سے خود پوچهے بتا تيری رضا کيا هے؟

دا وړه خبره نه ده .ځکه چې رحمان بابا خو وائي :

چې دا داسې دروند مېلمه راولے کور ته
اول غولے دے خالي که دا خاشاک

خو په دې نظم کښې هغه وائي چې " زما ذات په دواړه کونه نه ځائيږي " ولې نه ځائيږي؟ په قفس کښې وئيدلے ده مرزا يم .دلته خو عاشق د محبوب د قفس نه چرې وتے نه دے .دا ذکر خبر په دې ټول نظم کښې نشته .ولې د ټول نظم د صداقت دا حال دے.
چې معشوق د مرزا د قفس نه وئيږي.

د هر چا سره په علم په هستۍ کښې
يو په يو ور رسېدلے سر تر پا يم

مدام يو له يو موجوده تماشا کړم
تل ترتله بې شريکه بې همتا يم

که زما و يګانګۍ وته نظر کړې
په وحدت کښې دوئي نشته يک تنها يم

د کثرت په عددونو مې ځان پټ کړو
اوس ګهې ګهې دغه شم ګهې دا يم

په يقين نزدے نزدے په ګمان لرے
په ديدن له دواړو کونو ماورا يم

حياتي مې تل تر تله برقرار ده
په توحيد کښې فنا شوې له فنا يم

د اثبات قدم مې پاس په نفي کېښود
او د ذات زوال مې نشته تل بقا يم

مرزا خان انصاري يوازے شاعر نه دے .بلکه چې مونږ ورسره په لاره لاره ملګري څو، شائد چې مونږ به ډېر زر د خيال د بلندۍ او د مينې د روايت او درد د لطافتونو سره اشنا کوي .دا شعر ئې څه وائي :

دغه داغ چې مې خوږ لړې پرې تازه يم
د پـــرهـر پـه رغېـده مې حال بتر شي

بل شعر ئې وګورئ :

چې نه رنګ نه ئې مکان شته نه ئې لورے
هسې مخ به تا کښې تا وته حضور شي

ما په يو وخت کښې د" متاع لوح و قلم "مطالعه کړے وه .او د مرزا غالب د شاعرۍ نه بې خبره مې د هغه په يو شعر د فيض احمد فيض يوه تبصره لوستې وه .

نقش فريادي هے کس کی شوخئ تحرير کا
کاغـــزي هے پيـــرهن هر پيکر تصوير کا

فيض وئيلي ؤ چې که غالب ستاسو په کورس کښې شامل وي نو بيا به ډېرې شرحې او نوټس ستاسو سره موجود وي .چا هم چې د دې شعر شرح ليکلې وي .
دوه څلور صفحې به ئې ليکلي وي .او دا به شائد چې ليکلي شوي وي، چې په پخوانۍ زمانه کښې به چا درخواست يا کوم فرمائش حاکم وقت ته پېش کوو نو کاغذ به ئې هم د ځانه تاؤ کړے ؤ .ددې دپاره چې پته ولږي چې دا څوک فريادي دے .ځکه غالب چې په وړمبۍ مصرعه کښې وائي چې نقش هر هغه څيز چې په کاغذ ليکلے وي .که د تصوير په شکل کښې وي ، که د تحرير په شکل کښې ، نو د خپلو ليکلو والا يا د مصور فرياد کوي .او ثبوت ئې دا دے چې هغې د کاغذ جامې اغوستې وي .هم دا معنی 'به تاسو ته هر چرته په ګوتو درځي .څوک چې څه لږ ډېر باريک بين وي هغه به دا شعر تصوف طرف ته اړوي .او معنی 'به ئې دا ښائي چې يا خدايه تا کوم

انسانان پېدا کړي دي او کوم چې د هغوي نقش دے، په هغې کښې دې دا قسم صفات ایښي دي، یا دې پکښې څه خوبۍ ایښي دي .یا دې پکښې داسې فطرت ایښے دے .چې هغوي ته قسما قسم مصیبتونه مسئلې او مشکلات مخې ته راځي .او په دې وجه هغوي د خپل خالق په مخکښې فریادونه کوی .زما په خیال ددغې شعر دا قسم معنیٰ بلکل نه جوړېږي .فرض کړه که دغه معنی 'ئې صحیح وګڼو .نو په دویمه مصرعه کښې چې د کاغذي پېرهن چې کومه استعاره ده، نو هغه محمله کېږي. هیڅ انسان د کاغذ په جامو کښې نه ګرځي .د کاغذي پېرهن نه خو دا پته لګي .چې دا شعر صرف د هغې تحریر یا تخلیق په باره کښې دے .کوم چې انسان لیکلے یا جوړ کړے دے .نه چې الله تعالیٰ لیکلے ....غالب وائي چې لیکلو والا یا کوم مصور چې د کومې ګرمۍ ،شوخۍ او جوش یا د څومره تودو جذبو او الفاظو په ذریعه خپل فریاد کاغذ ته منتقل کړے دے .د دومره تند او تېز تحریر یا تصویر یا الفاظو کاغذ د برداشت نه دے .دغه کاغذ فریاد کوي چې زما وجود د دومره ګرمۍ او تودو جذبو د لفظونو د برداشت نه دے.

د مرزا غالب او مرزا انصاري په زمانه کښې ډېر فرق دے .خو دغه مضمون مرزا خان انصاري په ډېره ساده ژبه کښې داسې تحریر کړے دے.

پټ پنهان مې دا خراب خاطر ورتېږي
او که آه کړم ډېر عالم به اوسېزینه

محبت خبرې ګرمې تر لمبو دي
کاتبان به ئې په کومو ګوتو کوښوینه

چې قلم په دا لمبه کښې لوغړن شي
ترو باریک کاغذ به څشکله سهینه

یعني د دغسې حالاتو په لمبو چې قلم ګرم یا لوغړن شي .نو یو کاغذ چې ډېر باریک وجود لري، هغه به ئې په څه صورت برداشت کوي .مرزا خان انصاري که هر څو د پښتو دویم صاحب دیوان شاعر دے .خو دے، په اصل کښې د روښاني دورې اولنې داسې شاعر دے .چې مونږ ورته د خپلې ژبې د ځنې صنفونو په حواله او د خیال د پرواز په حواله، د فن د حسن په حواله او په لږ څه کښې د ډېرو څه وئیلو په حواله د فکر و پېغام په حواله او د مروجه خیال او فکر د پاکیزګۍ په حواله ، خپله بختوره ابتدا وئیلے شو.

نن چې مونږ په کوم مقام یو یا مو د شعر ساخت او وجود باریک هم دے، حسین هم او غني هم دا د هغې خلقو برکت دے .خوشحال بابا وائي.

د مرزا دیوان مې ومنډو په ګـوډې
مسخره مې ارزاني خوېشګي زمند کړو

یا د مرزا خان انصاري د دیوان په سریزه کښې چې راج ولي شاه خټک د رحمان بابا کوم شعر رانقل کړے دے .چې :

د مرزا د ارزاني دعوی 'به پرې که
قدردان د شاعرانو رحمان بابا

ډاکټر راج ولي شاه خټک وائي چې ښکاري داسې چې د مرزا خان انصاري نوم د پښتو د ادب دغه زرین دور پورې هم ښکاره او مقبول ؤ.

زما خیال دا دے چې مونږ لا د کومې زمانې خاوندان نه ؤ .او نه د کوم زرین دور خاوندان ؤ .نو لکه خوشحال بابا چې د مرزا خان انصاري په بابله دا حقیقت تسلیم کړے دے، چې :

د چانه په پښتو کښې ما میزان لیدلے نه دے
مرزا په دا زبان کښې وئیل کړي دي تللي

نو دغه تللي وئیل مونږ د یوې زمانې سره نه یوازې

اشنا کوي .بلکه د هغې زمانې مالکانه حقوق هم رابښي .بې شکه د خوشحال او رحمان دور ، چې پکښې نورې هم ډېرې هستۍ دي .مونږ د يو زرين دور مالکان کړي يو .خو دغو د زرين دور خلقو ته د شعر د جوړښت او لفظ د ترلو او مضمون پېدا کولو لارې شائد چې هم دغو خلقو پرانستي دي .داسې ښکاري چې دغه زمانه د يوې داسې قسم تعلي زمانه وه، چې د خلقو نومونه اخستل به پکښې جائز وؤ. ګڼې که شاعري د ژبې د خاطره وي .د قام او اولس د خاطره وي او د ژبې او قام او اولس د شته کولو او شته منۍ دپاره وي .نو دغه دواړه داسې شخصيتونه دي چې عالمګير حېثيتونه لري .په دې کښې هم شک نشته چې مرزا خان انصاري چې د خپل مضمون دپاره کوم مشکل لري .ددې نه راپرېوتل هم د هغو د وس خبره نه وه .او که دوي په دغو لارو کښې د اسانې ژبې پېدا کولو دپاره کاميابي موندے وي .نو دا د دوي په ژبه عبور هم دے او د دوي کمال هم .ولې د دغو دواړو د دغو شعرونو نه معلومېږي. چې دوي نه يوازې دا خلق لوستي دي بلکې په مکمل ډول ئې ترې استفادې هم کړي دي .دا به د خوشحال بابا لوئے والے او عالی 'ظرفي ګڼل په کار وي .چې د مرزا خان انصاري وئيلو ته په ميزان تللي وئيل وائي.

مرزا خان انصاري وائي چې، معرفت ځنې پېدا شه عشق د عقل پلار او مور دے .او رحمان بابا وائي چې :

دا دنيا ده خدائے له عشقه پېدا کړې
د تمامو مخلوقاتو پلار دے دا

په مرزا خان انصاري د خپلو طالب علمانو او راتلونکو نسلونو دپاره بائد چې سرے کتاب وليکي .او که وخت پېدا کړي سړے نو دا ناممکنه نه ده .زه نور هم ډېر څه وئيل غواړم خو د مرزا خان انصاري ځنې شعرونه به د خپلو لوستونکو سره او د خپلو پښتنو طالب علمانو سره د خپلو دعوؤ په رڼا کښې شريک کړم .او د معنی 'او مفهوم کار به په هغوي پرېږدم.

يو ئي اصل د اوبو دے يو د زمکې
او مېوې ځنې ترښې دي څوک شيرينې

صورت شهد ورخرګند کړے
خوئي دې څرخ شي لکه ستنې

په اصل کښې د مرزا خان انصاري خالصې روماني شاعرۍ ته خاص نظر کول وؤ .هغه ما ونه کړے شو. دويم دا چې هغه د تېپې نه هم متاثره ښکاري .ځنې نمونې ئې هم د تېپې د کړينه، وينه، دينه په شکل پېدا کړي دي .چې دا ئې قافئې کړي دي .په روماني شاعرۍ کښې د هغه انداز هم داسې دے .لکه بيخي چې د خوشحال و رحمان او نورو شاعرانو دے .او تر مونږ رارسېدلے دے .تاسو وګورئ :

ته چې هسې مستغنی په کلو ملے
د ريدې په وفا څه رنګ پوهېدلے

محبت دے د هر چا سره آغاز کړو
لور په لور دې تنستې ونښلولے

د زړګي پتې دې څومره مختصر دے
تا په سود دا دومره مينې پرې کړلے

ښه تکيا دې د بې نياز په عهد وکړه
او په باد دې د زړه" ولې "وترلے

د زړه " ولې "په باد ترل .په هغه وخت کښې دغسې شاعرانه اصطلاح پېدا کول، داسې وړه خبره نه ده .او هم دا خبره ده چې که مرزا خان انصاري نه وے او د هغه دغسې ژبه او باريک بيني نه وې .نو نه به

زمـونږ دغـه شاعران دغسې وؤ .او نـه به ئې دغسې دعوې کړې وې .ځـکـه چې هـغه يو معيار هلته هم پيدا کړے دے .او دلته کښې هم .دا ئې بـله نمونه د روماني شاعرۍ.

کـه شيـرين اشنا دے کوچ درڅخه اوکه
د فـــراق نعرې به کړې پسې به زغـــلے

چې د هسې لالـــه زار تمـــاشه نه کړې
د خـــزان پـه لـمــــبو وســـــوزه بلبلے

شـايـد چې هـر څـوک راسـره اتفاق وکړي چې که يو طرف ته مسافرو زمونږ ژوند وريت پريت کړے دے. يـار ئې د يـاره او مئين ئې د مينې نه جدا کړے دے. نـو دغـه تـصور زمونږ د عوامي دانش يعنې سندرې ،ټپې دړدېدلې نعره هم ده .او زمونږ د نوي پيدا شوي دغسې ادب دننـه يـو حـقيقت هم، او دا تصور تر ننه زمـونږ د نـظـميــه کلام پـه هر صنف کښې خور ؤر پروت دے .ددې سره چې زمونږ د شاعرۍ د کلچر او روايـت کـوم مسـتـند لفظ دے، هغه د هجر يا هجران اور دے .خـو چې کـله مرزا خان انصاري د لاله زار د تماشې خبره کوي نو څنګه چې زمونږ د ژبې باريکې اشارې دي .پـه هـغې اشارو کښې بلبلو ته ښېرې نه بـلـکې يادګېرنه کوي .لـکه مونږ چې وايو (ځه مړه اوس دغسې بـوتـل ګـرځـه) يعنې ته په شته سترګو کښې ړوند ئې . . . .نو هغه د هجران اور د سپرلي د ګلونو د نه ليدو په وخت بلبلو ته وائې چې د خزان په اور دې وسوزې بلبلې، يعنې دا بهار او دا لاله زار چې د ليدو دے، دوي محسوس نه کړو .نو د يو هئې هئې نـه پـس هغه خبره کوي .خـو تشـه خبره نه کوي .د هجران اور د خزان په اور بدلوي .ځکه چې سپرلے ئې د لالــه زار پـــه رنګ کښې خودلے دے . د دې غـزل آخري شعر داسې دے:

نـن مـرزا د مـحبـت پـه مينه پر لمشت
پــــه ازل ئې د ابــد بــرښــــې ويشــلې

ددې شـعـر اسـان مطلب دا دے چې کومې برښې چې ئې د ازل نـه تـر ابده ويشلې دي .لـکـه محبت ئې د مرزا په تندي ليکلے ؤ .او نن زه هم د محبت په هغه دام اسيـر پــه هـغـه لار روان يم .هـم دا خيـال چې د رحمان بابا اسان کړے دے .داسې دے :

د ازل پــــه ورځ د بـــرښــو جـواري وه
اے رحـمـانــه چـا ګـټـلے چـا بـائـلـــلے

دا يـو حسـن اتفاق صحي خو ددې غزل قافيه هم هغه ده کومه چې مرزا خان انصاري وئيلے ده .د مرزا خان انـصاري لکه چې پېش ګوئي کړې ده .چې خوشحال او رحـمـان به پيدا کېږي او زما په حقله به د تعلي يو نوې آغاز کوي .نومخکښې ئې وئيلي وو چې :

د مسـکـيـن سـره د هيچا سيالي نه شي
چې ئې کړه تـر تـلې وړانـدې تـللي

نـه پوهېږم چې زمونږ د محققينو نه دغه شعر پټ ؤ کـه نه چې کوم محقق اول خبره کړې ده نو هم د هغې نه چا بل خوا نه دي کتلي.
مرزا خان انصاري په يو بل شعر کښې وئيلي دي چې:

دغه مرګ مې د صورت او د معنی 'دے
د مـــــردوؤ هـــديـرې د خـلقو کلـــې

دا شعر په اصل کښې د يوې وړې قصيدې شعر دے. مـا پـه يـو وخـت کښې د چانه يو شعر اورېدلے ؤ .په خپلـــه مې نـــه دے لـوستې خـو هـغـه وې چې دا د خوشحال شعر دے، چې:

دوه څـلـور تـکبيـره وايه پـــرې تېرېږه
د ســوات کـــلـي د مـردوؤ هـديــرې دي

زه پــه دې د څه بحث نه بغېږ د خپلې وړومبۍ خبرې پښتلے داسې کوم چې، اګر چې د مرزا خان او خوشحال خان اغراض و مقاصد کښې ډېر فرق دے .که معنوي اړخ ئې ګـورو نـو هـم پـرې مرزا خان انصاري درونډ ښکاري .خـو زه د دواړو تقابلي جائزه نه اخلم .او نه پېش کووم .مـا مخکښې عرض کړے ؤ چې که مرزا خـان انـصـاري مونږ ته معيار نه وې راکړے نو شائد چې زمـونږ پـه ژړه کښې د مـقـابلې او معيار ساتلو خبره به هم نه وه.

مرزا خان وائي :

د مــردوؤ هــديــرې د خــلــکــو کــلــي

او خوشحال وائي چې :

د ســوات کــلــي د مــردوؤ هـديــرې دي

دواړه شعرونه تللي دي .او مونږ ته پرې ناز دے .خو لـکـه چې پښتانه وائي،" وړمبې د روستي پل دے" نـو د لـفظونو يو والے کوم حسن اتفاق نه بلکې اثر او استـفاده ښکاري .هـم پـه دغـه قصيده کښې يو بل شعر هم دے .لکه چې وائي :

کـه قامونه په جهان کښې تار په تار دي
فـقيرانو په خپل ځان کښې دي پـېرلي

ددې شـعـرونـو نه مونږ د هغه د ظاهري او باطني علم پتــه هم لګولے شو .د هـغـه کار چې په کوم ئې يقين دے هـم او پــه دې کښې هم څـه شک نشتـه، چې د فرقو ، قبيلو او مسلکونو تر مينځه چې د صوفي ازم نه د پېدا شوؤ څنې صوفيانو کوم تاريخي کردار دے. هـغـه دادې چې څـوک ئې فرقه واريت ، قبائيليت او مسـلک پرستۍ ته نه دي ورکړي .بـلکې مرزا خان انـصـاري خـو دا وائـي چې په دنيا کښې کوم قامونه دي .او تـار په تار دي .دا دې فـقيـرانو په خپل ځان کښې داسې پېرلي دي .لکه په يو تار کښې بنړل .دا کوم وړوکے مقصد او وړوکے خيال هم نه دے .

يــو پــه يــو به د هر قام په ژبه پوئې شي
کــه د زړه غــوږ دے بيــنا کړو مــبصره

د شــــــجر د لوري هسې جـواب اوشه
چې تــا رنګ او خـوند له چا موندو ثمره

د نـفر په خپل صـاحب پورې عزت دے
د صـاحـب صـاحبـي نــه شـــي بې نفره

پــه دې کښې شک نشته چې د يوې عقيدې له برکته دغـو خلقو ټول مقاصد د يو محور نه چاپېره تاؤ کړي دي .خـو ددې نه چې د يو په بل د انحصار د يو نظام د ضـرورت دپاره کوم خيال دے .دا ډېر اهم دے .دا په دې معنو کښې نه چې د مرزا خان انصاري خيال دے. يا د بل چا لوئے خيال دے .دا په دې معنو کښې لوئے دے چې دا د ټـولـنې د يـو نظام د ضرورت نه اخستې شوے دے .او د ټـولـنې د ضـرورت محتاجي د ټولو ذمه دارانو د ضرورت محتاجي هم ده.

د اشـنــا پــه مـيـنــه ځـان جهــان شندمه
نــه چې ځـان ســاتـم له ننګه له پېغوره

پــه هيڅ دود پــه يوه عقد نه کښـــېوزي
دغه دين دنيا دوه خوئيندې دي نه يونړې

د شـعــر د مـعـنوي رسائۍ نه که يو طرف ته مونږ دده ژبې تــه وګـورو نـو په وړومبي شعر کښې د ننګ او پېغور لفظونه او په روستي کښې د دود او عقد يعني د رسـم او دسـتـور او يا عقيدے واسطه بيانول او دين دنيــا نــه خـوئيـنـدې ګڼل او نه يونړه .يو خوا دا چې د شـعـر د باريک وجود د خيال ساتلو سره سره د هغې د مـعـنـوي اړخ خيـال ســاتـل، د خلقو د عقائدو او دود دستــور ، د ژبې سـره اشنائي او نزدېکت ، دا ټول هغه

فـنـي لـوازمات دي چې مونږ ئې د روښاني دورې په شاعرانو کښې وينو او محسوسوؤ .ښښه غواړم .ما د مـرزا خـان انـصـاري د شاعرۍ په حواله مخکښې خبره بس کړې وه .خو زه څه نورو ضرورتونو د هغې نـه پـس هـم پـه څه خبرو کولو مجبور کړم .ددې بې ترتيبۍ ښښه غواړم . اوس هـغه شعرونه چې تاسو ئې صرف د نظره تېر کړئ .داسې دي.

چې په خپل اختيار ئې راز په ژبه راؤړو
دا فـــقيـر مـــرزا ئې څه لره بدنام کړو

ملامت په ســـلامـــــتو باندې نه وي
مـحـبت ئې د مـرزا ورته پـــېغور کړو

کـه مـقصد ئې د خپل مخ نندارہ نه وې
د انـــســان جـــامه ئې څه له کړله سازه

دا فـقيـر مرزا قانع په خپل قسمت دے
د عـاشـق بـــرخـه مدام له سوز وسازه

دا صورت په مثال ښار زړه ئې تخت دے
مـعـــرفـت لـکـــه عيسیٰ عقل مريمه

لـه دانـــــــشه بـې نصـيب شو
عـقـــــــل غـواړې لـــــه انعامه

کـــه انســـان ئې مۍ بـه نـوش کړے
وصـــــلـت نشتـــه بې دوامـــه

دا سفـــر بـــه هـــــغـه وکـــــه
چـــې پـــه زړه درومـــي بې ګـامـــه

هـر چـــــې دا رفتن ئې بـــيا موند
دانـــــا ورغې تـــــــر قـــــامه
...................

چې زمـا د خـــــاطـر سود وؤ څنې طمع
دوباره ئې د محبوب په مـخ مئـين کړم

مسته شاه ده يک تنها په ډېر عالم کښې
زه ئې ولې په خلوت کښې انجـمن کړم

د خــــزان د لمـبو تاؤ تر عالم اوخـوت
دريـغـه دريـغـه د بهـار سـرہ شـــبنمه

لـور په لورې انديښنې په زړه څرخېږي
څـــــوک خبر نه دي د فـــکر له مرحمه

...................

روح د عـــقـل خـــــــــليـفـه دے
پـايـه تـخـــــــت لره به څـــينه

چې ګـمـــان لـــه مـــــيـانـه اووت
مـلک دې وســــــــاتـه يقينـه

د هغـــې وينـــا معنیٰ ولــــې سازېږي
چې سل سل نادان په هيڅ دانا په سل دے

## كتابيات/ماخوذونه

1: د مـرزا خـان انـصاري ديوان، سمونه او څېړنه: ډاکټر پرويز مهجور خويشګي، سريزه ، ډاکټر راج ولـي شـاه خټک، جـدون پرنټنګ پرس پېښور، د چاپ کال :نومبر2004 ء ، خـورنکي، ډايريکټر پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي.

2: مـرزا غـالـب اور نظريه وحدت الوجود، کتاب: مقالات علي عباس جلال پوري

3: متاع لوح و قلم، مصنف فيض احمد فيض ،

ترتيب کونکے :مرزا ظفرالحسن تيسري

ايډيشن، مارچ1981 ء

☆☆☆